د افغان کلتوري ټولنو کده

جرګه

# د کانکور ۳۰۰۰ پوښتنې او ځوابونه




۱۳۹۲

د کانکور ۳۰۰۰ پوښتنې او ځوابونه

# 3000 Questions & Answers of Kankor Examination

Aghalibrary.com

2013

# د کانکور ۳۰۰۰ پوښتنې او ځوابونه

هغو ځوانانو ته چې د کانکور آزموینې لپاره تیاری نیسي!

۱۳۹۲ ل کال

*Aghalibrary.com*

*Aghalibrary.com*

# د کانکور ۳۰۰۰ پوښتنې او ځوابونه


| | |
|---|---|
| خپرندوی: | سپوږمۍ راډیو او د افغان کلتوري ټولنو ګډه جرګه |
| بریښنالیک: | secretariate.jarga@gmail.com |
| د ټیلیفون شمېره: | ۰۷۸۲۷۲۲۹۴۰ - ۰۷۰۰۲۷۰۵۵۲ |
| د چاپ نوبت: | لومړی |
| چاپ شمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپ ځای: | ننګرهار |
| چاپچارې: | مومند خپرندویه ټولنه |
| چاپ کال: | ۱۳۹۲ لمریز لېږدیز |
| ای ایس بی اېن: | |



*Aghalibrary.com*

# نیولیک

سرلیک ---------- مخونه
سریزه ..... و
د کانکور د ګډون لارښود ..... ۱
د دیني برخې پوښتنې ..... ۲۱
د تاریخ برخې پوښتنې ..... ۶۱
د جغرافیې برخې پوښتنې ..... ۹۵
د دري برخې پوښتنې ..... ۱۲۱
د پښتو برخې پوښتنې ..... ۱۵۵
د ذهني برخې پوښتنې ..... ۱۸۱
د ریاضي برخې پوښتنې ..... ۲۰۵
د فزیک برخې پوښتنې ..... ۲۷۱
د کیمیا برخې پوښتنې ..... ۳۱۳
د بیولوژي برخې پوښتنې ..... ۳۵۷
د پوښتنو ځوابونه ..... ۳۸۷

Aghalibrary.com

# سریزه

د افغان کلتوري ټولنو ګډه جرګه د ستر څښتن تعالی شکر ادا کوي چې د خپلو ژمنو او هڅاندو ملګرو پر مټ د هېواد ځوانانو او د لوړو زده کړو مینه والو ته د کانکور لارښود برابروي.

د زده کړو دودول، زده کړه ته د لاسرسي اسانتیاوې هڅول، په مورنۍ ژبه زده کړې او د زده کړو د کیفیت ښه والی د افغان کلتوري ټولنو د ګډې جرګې اساسي موخې دي او په دا تېرو څو کالو کې یې په دې برخه کې ډېرې هلې ځلې کړي او لا هم لګیاده، د کانکور لارښود او په پلازمېنه کابل کې په مورنۍ ژبه د زده کړو پیلول یې د دغسې هڅو، موخو او کاري لومړیتوبونو څرګندې ببلګې دي.

په دا تېرو څو کالو کې د ښوونځیو د ټرلو او نه شتون، د مسلکي ښوونکو د کموالي، د زده کوونکو په ژبه د ښوونځیو، ښوونکو او کتابونو د نشت، د زده کړې د کیفیت د ټیټوالي، د کانکور په ازموینو کې د درغلي، لاسوهنو او ګڼو نورو لاملونو له امله ګڼ ځوانان له لوړو زده کړو بې برخې شول.

دغه پورتني او ګڼ نور هغه لاملونه چې لوړو زده کړو ته د ځوانانو د لارې لوی خنډونه دي، په اوس او راتلونکي کې افغان ځوانان، افغان ولس او په لویه کې د افغانستان راتلونکی له هره پلوه ګواښلی شي، ځکه له امله یې افغان ځوانان له مسلکي زده کړو بې برخې کېږي، په هېواد کې د مسلکي کډرونو د روزنې کچه ورسره ټیټېږي او تر ټولو بده دا چې د ټولنې انډول او توازن هم ورسره کاواکه کېږي چې دغه نا انډولي د هېواد د راتلونکي لپاره یو لوی او جدي خطر ګڼل کېدلی شي.

افغان کلتوري ټولنو ګډه جرګه د پوهنې وزارت، د لوړو زده کړو وزارت او په ټولو مدني بنسټونو او د هېواد په لوستي پوړ ته دا سپارښتنه کوي چې په هېواد کې د باکیفیته، متوازنه او په مورنۍ ژبه د زده کړو برابرولو په لاره کې دې خپلې هڅې، کړنې او امکانات سره شریک کړي، څو د هېواد ځوان پوړ د باکیفیته لوړو او مسلکي زده کړو په ګانه سنبال شي.

افغان کلتوري ټولنو ګډه جرګه په دې هیله دغه کانکور لارښود تاسو ته در رسوي، څو د کانکور په ازموینه کې لوړو زده کړو ته د بریا په لاره کې درسره ښه مرسته وکړي.

درنښت

د افغان کلتوري ټولنو ګډه جرګه

# لومړۍ برخه

## د کانکور په ازموینه کې د ګډون لارښود

یادونه: دغه لارښود د لوړو زده کړو د وزارت د آزموینې د ریاست له خوا د کانکور آزموینې د برخه والو لپاره لیکل شوی دی. دا چې دغه لارښود د آزموینې ټولو برخه والو ته نه رسېږي، نو ځکه مونږ له اړین سمون وروسته په دې ټولګه کې خپور کړ.

*Aghalibrary.com*

# مقدمه

د لوړو زده کړو وزارت هرکال د افغانستان د لوړو زده کړو د تحصیلي مؤسسو لپاره د کانکور آزموینه اخلي، ترڅو په دې وسیله وتوانېږي چې د لېوالە، بریالیو او وړ ځوانانو لپاره په مختلفو تحصیلي رشتو کې د لوړو زده کړو زمینه برابره کړي، په پایله کې د ماهرو او مسلکي کادرونو په روزلو سره د هیواد او ټولنې ارتیاوې پوره اولیږي کړي.

د کانکور آزموینه ملي او افغانستان شموله ځانګړنه لري. نو ځکه د لوړو زده کړو د قانون (دلوړوزده کړو په مؤسسو کې د شاملیدو لایحې، اصولو او اکاډمیکو موازینو) سره سم نومورې آزموینه له ټولو کاندیدانو اخیستل کېږي، چې هیڅ ډول تعصب، توپیر، د ملي یووالي ضد او ټول غیرعادلانه او منفي اغراض پکې ځای نه لري. د لوړو زده کړو وزارت تل هڅه کوي ترڅو په دغه آزموینه کې حق تلفي ونشي، او هر کاندید د خپلې علمي کچې سره سم وکولای شي مناسب او د خپلې خوښې نتیجه ترلاسه کړي، نو ځکه د لوړو زده کړو وزارت لاندې کارونه ترسره کړي دي:

1. دلوړو زده کړو وزارت د پوښتنو بانک جوړ او بډایه کړ، ترڅو وکولای شي بېلابېلې پوښتنې د آزموینو لپاره داشخاصو دلاسوهنې پرته د پېچې (قرعه کشۍ) له لارې تیارې کړي.
2. د ځوابونو او انتخاباتو پاڼه د ارزیابۍ دستګاه تجدید شوې او له ځانګړو معیارونو سره عیاره شوې ده، په دې توګه د اشخاصو د لاسوهنې او د خالت پرته او د قبول شویو احصائیوي ځانګړو فورمولونو په کارونې سره د هر ګډون کوونکي نمرې تثبیتوي، او د ورپېژندل شویو معیارونو له مخې هغوی معرفي کوي.
3. دنوم ثبتولولپاره ځانګړې فورم تیارشوی دی، ترڅو د هغه پر بنسټ د راتلونکو ګډون کوونکو د ټولو هغو کارونولپاره چې ضروري دي، لازم معلومات برابر کړي او له هغو په ګټه اخیستنې سره د معلوماتو ځانګړې بانک جوړ شي.
4. د ګډون کوونکو نوم ثبتول د پوهنې محترم وزارت په نږدې همکارۍ ترسره کېږي. د پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونو د متقابلې همکارۍ په سبب د معلوماتو د تکمیلولو پروسه بشپړېږي ترڅو د کانکور په آزموینه کې مستحق ګډون کوونکي شامل شي.

دیادونې وړده، چې د لوړو زده کړو وزارت د آزموینو سیستم دښه کېدو په منظور لاندې کړنې ترسره کړي دي:

1. داجراأتو په کیفیت او دقت کې ډاډ ترلاسه کولو لپاره ځانګړي بدلونونه اونوښتونه راغلي دي.
2. دلوړوزده کړو په موسسو کې دشاملېدو لایحه تدوین اوتصویب شوې ده.
3. دسوالونوبانک غني شوی دی، او د نوي سافټ ویر په وسیله تنظیم شوی دی، ترڅو په عادلانه توګه له ټولو برخو څخه په نظرکې نیول شوي سوالونه دپچې پراساس تهیه شي.
4. د ځوابونو پانې په نوي سیستم عیارې شوې دي، ترڅو د آزموینې په صحنه کې دجعل اوتزویرمخنیوی وشي. په دغه سیستم کې د ګډون کوونکي په ځای بل څوک نه شي کولای د آزموینې صحن ته شامل شي.

## دګډون کوونکونوم ثبتول:

نوم ثبتول په آزموینه کې د علاقه مندانو د شاملېدو او نورو وروستنیو کارونو بنسټ دی، ځکه ایجابوي ترڅو د آزموینې د ګډون کوونکو نوم ثبتونه په دقیقه اوبشپړه توګه ترسره شي.
د کاندیدانو د نوم ثبتولولپاره د نوم لیکلو فورم چې په همدې منظور پراخ شوی دی کارول کېږي. دغه فورم دعمومي، متفرقه، مسلکي او اختصاصي آزموینو لپاره جوړ شوی دی. په راتلونکې پاڼه کې یې یوه بېلګه راوړل شوې ده:

*Aghalibrary.com*

# د کانکور د ګډون کوونکو د نوم ثبتولو عمومي فورم او د ډکولو طریقه په لاندې توګه ښودل شوې ده:

**قابل توجه داوطلبان محترم کانکور:**

داوطلب تحت شرایط ذیل در امتحانات کانکور شامل میگردد:

1. فراغت صنف دوازدهم را دراین فورم ازمراجع مربوطه وزارت معارف طی مراحل نموده باشد. در امتحانات شبانه کارمندان دولت ، تصدیق محل کار نیز ضروری است .
2. محصل برحال ویا فارغ کد ام مؤسسه تحصیلی نباشد وسه چانس امتحان کانکور را تکمیل نه نموده باشد . در عین دوره امتحانات کانکور اشتراک ننموده باشد .
3. درصورت منفکی یک کاپی منفکی خویش را ضمیمه این فورم ثبت نموده باشد .
4. منفکی شان به اثر ناکامی ویا غیابت نباشد.
5. کاپی فورم هذا مدار اعتبار نمیباشد.

در صورت عدم تکمیل شرایط فوق الذکر داوطلب با آنکه این فورم را خانه پری نموده باشد در امتحان کانکور شامل نمیگردد.

**توجه:** لطفا در وقت سپری نمودن امتحان کانکور به درج نمودن دقیق نمبر ID ، نمبرفورم کتابچه سوالات امتحان و نمبر کود رشته مورد انتخاب در ورقه جوابات دقت زیاد نمائید . زیرا که اندک ترین غلطی در موارد فوق سبب بی سرنوشت شدن تان در امتحان کانکور گردیده و مسئولیت بعدی آن بدوش خود تان است .

عکس داوطلب
مهر گردد

**کابل**

C01:

**وزارت تحصیلات عالی**
**ریاست امتحانات**
فورم ثبت نام داوطلبان امتحان کانکور( عمومی )
برای مؤسسات تحصیلات عالی و ثیمه عالی

قیمت فورم با رهنمود( 220 ) افغانی

| | | به حروف: |
|---|---|---|
| اسم : | احمد جواد | ا ح م د ج و ا د |
| تخلص: | احمدی | ا ح م د ی |
| ولد: | احمد سلطان | ا ح م د س ل ط ا ن |
| ولدیت: | عبدالروف | ع ب د ا ل ر و ف |

هر حرف اسم را در خانه های جداگانه بنویسید

**سکونت فعلی:**

| | |
|---|---|
| ولایت | کابل |
| ولسوالی: | مرکز |
| قریه: | ناحیه سوم شاروالی |
| آدرس: | کارته چهار |
| نمبرتیلفون: | 0771213149 |
| سال تولد: | 1369 |

**سکونت دایمی:**

| | |
|---|---|
| ولایت : | بامیان |
| ولسوالی : | پنجاب |
| قریه : | پنجاب |
| آدرس ایمیل: | Ahmadi. d20 @ yahoo.com |
| محل تولد : | کابل |

**فورم مخصوص بخش عمومی**

| جلد | صفحه | شماره ثبت | نمبر عمومی (صکوک) |
|---|---|---|---|
| 25 | 39 | 394 | 1203921 |

نمبر تذکره :

سال فراغت: 1390

جنس: مرد [√] زن [ ] ( با علامت √ نشانی نمائید )

مکتب: خواجه عبدالله انصاری

لسان امتحان : **دری** [√] **پشتو** [ ] ( باعلامت√ نشانی نمائید )

اینجانب که شهرتم در فوق ذکر است تصدیق مینمایم که تمام معلومات فوق درست میباشد :

نام و امضاء خانه پری کننده | امضاء داوطلب | مدیریت لیسه | ریاست معارف

# د کانکور د ګډون کوونکو د نوم ثبتولو متفرقه فورم اود ډکولو طریقه په لاندې توګه ښودل شوې ده:

**قابل توجه داوطلبان محترم کانکور :**

داوطلب تحت شرایط ذیل در امتحانات کانکور شامل میگردد:

۱. فراغت صنف دوازدهم را دراین فورم ازمراجع مربوطه وزارت معارف طی مراحل نموده باشد. در امتحانات شبانه کارمندان دولت ، تصدیق محل کار نیز ضروری است .
۲. محصل برحال ویا فارغ کد ام مؤسسه تحصیلی نباشد وسه چانس امتحان کانکور را تکمیل نه نموده باشد . در عین دوره امتحانات کانکور اشتراک ننموده باشد .
۳. درصورت منفکی یک کاپی منفکی خویش را ضمیمه این فورم ثبت نموده باشد .
٤. منفکی شان به اثر ناکامی ویا غیابت نباشد.
٥. کاپی فورم هذا مدار اعتبار نمیباشد.

در صورت عدم تکمیل شرایط فوق الذکر داوطلب با آنکه این فورم را خانه پری نموده باشد در امتحان کانکور شامل نمیگردد.

**توجه:** لطفاً نمبرفورم کتابچه سوالات امتحان و نمبر کود رشته مورد انتخاب در ورقه جوابات دقت زیاد نمائید .
زیرا که اندک ترین غلطی در موارد فوق سبب بی سرنوشت شدن تان در امتحان کانکور گردیده و مسئولیت بعدی آن بدوش خود تان است .

عکس داوطلب
مهر گردد

**کابل**

وزارت تحصیلات عالی
ریاست امتحانات
فورم ثبت نام داوطلبان امتحان کانکور (
برای مؤسسات تحصیلات عالی )

E۰۱:

قیمت فورم با رهنمود برای کارمندان دولتی
( ۲۲۰ ) افغانی

| | | به حروف: |
|---|---|---|
| اسم: | احمد جواد | ا ح م د ج و ا د |
| تخلص: | احمدی | ا ح م د ی |
| ولد: | احمد سلطان | ا ح م د س ل ط ا ن |
| ولدیت: | عبدالروف | ع ب د ا ل ر و ف |

هر حرف اسم را در خانه های جداگانه بنویسید

سکونت فعلی:

| | |
|---|---|
| ولایت: | کابل |
| ولسوالی: | مرکز |
| قریه: | ناحیه سوم شاروالی |
| آدرس: | کارته چهار |
| تیلفون: | |
| سال تولد: | ۱۳۶۹ |
| جنس: | مرد [√] زن [ ] ( با علامت √ نشانی نمائید ) |
| مکتب: | خواجه عبدالله انصاری |

سکونت دایمی:

| | |
|---|---|
| ولایت : | بامیان |
| ولسوالی : | پنجاب |
| قریه : | پنجاب |
| آدرس ایمیل: | Ahmadi. d۲۰ @ yahoo.com |
| محل تولد : | کابل |
| نمبر نذکره : | جلد ۲۵ / صفحه ۳۹ / شماره ثبت ۳۹٤ / نمبر عمومی (سکرک) ۱۲۰۳۹۲۱ |
| سال فراغت: | ۱۳۸۹ |
| لسان امتحان : | دری [√] پشتو [ ] ( باعلامت√ نشانی نمائید ) |

**فورم مخصوص بخش متفرقه**

معلومات درمورد امتحانات قبلی:

| سال | ID |
|---|---|
| ۱۳۸۹ | C۰۱۲۰۱۰۱۵ |

تصدیق اداره مربوطه

| سال | ID |
|---|---|
| ۱۳۹۰ | D۰۱۳٥٤۲٥۱ |

مدیریت لیسه

| سال | ID |
|---|---|
| | |

ریاست معارف

نام و امضاء خانه پری کننده

۱- د کانکور په آزموینه کې د ګډون کوونکي د نوم لیکلو ترڅنګ، د پلار نوم، نیکه نوم او تخلص راغلی دی چې د هر نوم توري په ځانګړو خالي ځایونو کې هم په ترتیب سره لیکل کېږي ترڅو د آزموینې د ګډون کوونکي په کارت او نورو اسنادو کې د احتمالي تېروتنو مخه ونیول شي.

۲ـ له ښوونځي څخه د ګډون کوونکي د فراغت او نورو اړوند موضوع ګانو په اړه، د ګډون کوونکي په اړه د لېسې او د پوهنې وزارت د اړونده څانګود تاییدسره نورمعلومات.

۳ـ د ګډون کوونکي د اصلي او اوسني استوګنځي په هکله معلومات.

۴ـ ګډون کوونکی باید د خپل تیلیفون نمره په دقیقه توګه د نوم ثبتولو په پاڼه کې ولیکي چې د ضرورت په وخت کې ورسره اړیکه ونیول شي.

۵- ګډون کوونکی یوازې په اړونده حوزه کې آزموینه ورکولای شي.

۶ـ د کانکور ګډون کوونکی باید خپل یو قطعه نوی رنګه عکس په ټاکل شوي ځای کې ونښلوي چې د اړونده لېسې د مدیریت له خوا مهر وربانديې لګول کېږي.

۷ـ د کانکورد آزموینې د هرګډون کوونکي فورم د پوهنې وزارت د صلاحیت لرونکي استازي او یا د اړوندې لېسې د روزل شوي مسئول له خوا ډکېږي او د اړونده لېسې اداره یې تاییدوي، چې وروسته له هغې د پوهنې وزارت د اړونده څانګو په تصدیق سره لېست وار د فهرست له مخې د آزموینو ریاست ته سپارل کېږي.

۸ـ هرفورم دلارښود سره یوځای (۲۲۰) افغانۍ بیه لري، که چېرې د فورم ډکولو پرمهال له کوم ګډون کوونکي څخه تېروتنه وشي او نوي فورم ډکولو ته یې اړتیا پیدا شي، په دې صورت کې باید باطل شوی فورم د آزموینو ریاست ته وسپارل شي.

۹ـ فورم باید په ډېر دقت او پاملرنې سره بې له غلطۍ او تېروتنې ډک شي، ځکه چې د آزموینو ریاست له خوا کمپیوټر ته د داخلېدو پرمهال هر ډول غلط معلومات د نورو راتلونکو ستونزو لامل ګرځي.

<u>د کانکور په آزموینه کې ګډون:</u>

۱ـ داچې ګډون کوونکي په کوم صنف او کومه حوزه کې ازموینه ورکوي، په آزموینه کې د ګډون کارت په مرکزکې دازموینو ریاست له خوا او په ولایاتو کې دلېږل شوي هیئت له خوا ورکول کېږي.

۲ـ د کانکورآزموینې په کارت کې د ګډون کوونکي نوم، پلارنوم، نیکه نوم او عکس څخه علاوه یوه شمېره د (ID نمبر) په نوم هم ترستر ګو کېږي، هرګډون کوونکی باید خپل دغه (ID نمبر) په یاد ولري او هغه ځان سره یاد داشت کړي ترڅو د اړتیا په وخت کې په آسانۍ سره مطلب پرې

حل شي، که چېرې دنوم لیکنې او کارت اخیستنې څخه وروسته ګډون کوونکي ته دآزموینې نښته اوځای تثبیت شي ولې بیا هم دی په آزموینه کې ګډون ونه کړي په دې صورت کې نشي کولای چې په همدغه کال کې بیا په آزموینه کې ګډون وکړي.

۳ـ هرګډون کوونکی مکلف دی چې دآزموینې په ورځ نرم پنسل ( HB 2 ډوله غوره دی ) پنسل پاک او پنسل تراش له ځان سره ولري.

۴ـ ګډون کوونکی باید دآزموینې په ورځ له ځان سره خپل کارت اودتابعیت اصلي تذکره ولري، که چېرې دآزموینې دګډون کارت پلاوي ته تسلیم نکړي دګډون کوونکي دآزموینې پایله نه اعلانېږي اوله خپل حق څخه محرومېږي.

۵ـ دآزموینې ګډون کوونکی مکلف دی چې دآزموینې دګډون کارت په ډېره پاملرنه اوامانت له ځان سره وساتي، او د کارت فوتوکاپي هیڅ اعتبار نه لري.

<u>په آزموینه کې دګډون قواعد:</u>

دافغانستان دلوړوزده کړو په مؤسسو کې دآزموینې دګډون په هکله ځینې قواعد په پام کې نیول شوي دي چې باید هرګډون کوونکی یې له آزموینې څخه دمخه اودآزموینې په جریان کې په جدي توګه په پام کې ونسي:

۱ـ دآزموینې هرګډون کوونکی مکلف دی ترڅو هغه اصول چې دآزموینې دپلاوي له خوا ورته توضیح کېږي په پام کې ونیسي.

۲ـ هرګډون کوونکي ته پکاردی چې دآزموینې په ورځ له ځان سره دآزموینې دګډون کارت اودتابعیت اصلي تذکره ولري.

۳ـ دآزموینې ګډون کوونکی حق نه لري چې دآزموینې په پای کې د ( ***پوښتنوکتابچه دځوابونو پاڼه اودآزموینې دګډون کارت له ځان سره یوسي*** ) نومورې اسناد یوځای دآزموینې په پای کې ببرته دحاضرۍ له مخې ممتحن پلاوی ته تسلیمېږي، سرغړونکي دممتحن پلاوي له لوري دآزموینو ریاست ته ورپېژندل کېږي اوآزموینه یې بې پایلې اعلانېږي.

۴ـ دآزموینې ګډون کوونکي حق نه لري چې دآزموینې په ورځ له ځان سره (موبایل، دحساب ماشین، بلوتوت، مخابرې دستګاه، وسله اونورمنع شوي اوغیرضروري شیان ) راوړي، دداسې شیانو راوړلو په صورت کې ګډون کوونکی له آزموینې څخه محروم اوایستل کېږي.

۵ـ نقل کول په هرعنوان اوهرډول چې وي دآزموینې دنظم پرضد ګڼل کېږي نقل ورکوونکی اونقل کوونکی دواړه دآزموینې دپلاوي دتشخیص وروسته دآزموینې څخه محروم اوایستل کېږي.

۶ـ دآزموینې هرګډون کوونکی باید له آزموینې دمخه دځانګو دانتخاب لارښود په غور سره ولولي اودهرې څانکې یا پوهنځي دظرفیت دمنلوپه شمېر باندې ځان پوه کړي ترڅودخپلې خوښې پوهنځي کوډ نمبرلیکلوپه وخت کې دستونزوسره مخامخ نشي.

۷ـ دآزموینې پیل اوپای ټولوته یوشان دی، یعنې په ټاکلي وخت کې آزموینه پیل او د وخت په پوره کېدو سره پای ته رسېږي.

۸ـ دسوالونو دحلولو له پیل څخه دمخه ګډون کوونکي ته پنځه دقیقې وخت ورکول کېږي ترڅو دځوابونو په پاڼه کې په سمه توګه دسوالونوکتابچې فورم نمبر په ټاکل شوي ځای کې ولیکي اوپه همغه استقامت لاندې خانې توریې کړي اوتعهدنامه چې دځوابونوپاڼې په سرکې لیکل شوې ده په داسې ډول لاسلیک کړي چې له ټاکل شوي چوکاټ څخه بیرون نه شي دیادونې وړه چې نوموړی پنځه دقیقې وخت دآزموینې په مجموعي وخت کې نه محاسبه کېږي.

۹ـ دځوابونودپاڼې خانې باید په نرم پنسل توریې شي یعنې د سمو ځوابونو خانې باید په پنسل په بشپړ ډول توریې شي ترڅو اړوند ماشین هغه سمې ولوستلی شي.

۱۰ـ که چېرې دآزموینې ګډون کوونکی دخانې دپوره تورولو پرځای نورې غیرمعمولي نښې نښانې وکاروي چې دستګاه ته دمنلوورنه وي لکه (یوټکي ایښودل، چلیپا کول، دخانې نیمه برخه تورول ) چې په دې صورت کې دستګاه هغه نه لولي ،اوګډون کوونکی خپلې نمرې له لاسه ورکوي، نوپکارده چې دسم ځواب خانه ښه اوپه بشپړهتوګه توره کړي.

۱۱ـ هره پوښتنه یوسم ځواب لري ، ګډون کوونکي دې هغه تشخیص کړي اودځوابونو په پاڼه کې دسوالونو دهرې شمېرې په خوا کې له څلورډایرو څخه دیوې ډایرې په پوره تورولوسره سم ځواب په نښه کړي.

۱۲ـ که چېرې دآزموینې ګډون کوونکی دآزموینې په لومړي پړاوکې دسم ځواب په ټاکلو بریالی نشي ، ښه داده ، چې دهغې پوښتنې دځواب خانه سپینه پرېږدي او وروسته له سره پرې مرور وکړي اودسم ځواب خانه توره کړي، ځکه چې داسې ډېر لیدل شوي دي چې ګډون کوونکي دغلط ځواب خانه سمه نه ده پاکه کړي اوپنسل تورواليې اوداغونه پکې پاتې شوي چې کمپیوترماشین دارزونې په وخت کې هغه د دو اویا زیاتوځوابونو په څېر محاسبه کړي ګډون کوونکی د همغه سوال له نمرې څخه محروم شوی دی اوکه نه، نوخانه باید په داسې ډول پاکه شي چې هیڅ داغ اونښانه یې باقي پاتې نه شي.

۱۳- که کوم ګډون کوونکی دیوې خانې پرځای څو خانې توریې کړي اویا زیاتې نښانې پکې ولیکي بې له شکه چې دارزونې دستګاه داسې ځواب له نمرې څخه محرومـوي

۱۴- دسم ځواب تورولوپه وخت کې باید ګډون کوونکی ښه ځیر شي ترڅو دسم ځواب پرځای دبل ځواب خانه توره نه کړي ؛ځکه په دې صورت کې له نمرې څخه محرومیږي.

۱۵- هر ګډون کوونکی مکلف دی چې دسوالونوکتابچې پرمخ هغه څلوررقمي (په داخل دقوس کې) نمبرداړونده خانوپه ترتیب په عددسره ولیکي اوپه همغه استقامت لاندې خانې دممتحن پلاوي دلارښوونې سره سمې تورې کړي.

۱۲- هر ګډون کوونکی حق لري چې پنځه (۵) رشتې انتخاب کړي ، ګډون کوونکی باید خپل انتخاب له یوځخه ترپنځوپورې په ترتیب سره په مناسبوځایونوکې ولیکي اوپه همغه استقامت لاندې خانې په دقیقه توګه تورې کړي.

۱۷- هر ګډون کوونکي ته دآزموینې په پاې کې دممتحن پلاوي له خوا کافي وخت ورکول کېږي ترڅو دخپلې خوښې رشتې (څانګې) له یوځخه ترپنځو پورې په ترتیب سره په مناسبو ځایونو کې ولیکي اوپه همغه استقامت لاندې خانې په دقیقه توګه تورې کړي.

۱۸- که چېرې ګډون کوونکی لږ رشتې انتخاب کړي اوپه عین وخت کې دهمغو انتخاب شویو پوهنځیو معیاري نمرې پوره نشي کړی په دې صورت کې ګډون کوونکی کوم بل پوهنځي ته ( که څه هم له هغه څخه یې نمرې لوړې وي ) په جبري توګه نه ورمعرفي کېږي، اوبې نتیجې اعلانېږي ، نو ددې لامله په ټینګارسره هر ګډون کوونکي ته په کاردی ، چې پنځه انتخابه مکمل کړي.

۱۹- که چېرې دکانکور آزموینې ګډون کوونکی دخپلو پنځو انتخابي څانګو معیاري نمرې پوره نشوې کړی بې نتیجه اعلانېږي.

۲۰- دکانکور آزموینې ګډون کوونکی په پوهنتونونو اولوړو زده کړو مؤسسو کې خپل انتخاب په داسې توګه عیار کړي ، چې له یو پوهنتون څخه وبل پوهنتون ته اویا له یوې مؤسسې څخه وبلې مؤسسې ته اویاهم له یوې رشتې نه بلې رشتې ته اویا دلیلیې دنه لرلو مشکلاتو سره مخامخ نه شي.

۲۱- دکانکور آزموینې ګډون کوونکی له خپل انتخاب اونوروشرطونو دتکمیل څخه پرته په جبري توګه کوم پوهنځي اویا څانګې ته نه ورپېژندل کېږي.

۲۲- په پوهنتونونو اولوړو زده کړو مؤسسو کې دکانکور آزموینې پارچه تجدید نظر نه لري، بناء هرګډون کوونکی باید دآزموینې خپل ځان په سمه توګه عیارکړي، اودځوابونو اوانتخاباتو په پاڼه کې دغلطۍ لامله باید دتجدید نظر لپاره بیا مراجعه ونکړي.

۲۳- هیڅ ګډون کوونکی د پوهنې وزارت له نوم ثبتولو اود ټولو اسنادو له بشپړولو پرته پهکانکور آزموینه کې ګډون نه شي کولی ، ځکه هیڅوک دشمولیت له کارت او مشخص ( ID نمبر ) څخه پرته په آزموینه کې دګډون حق نه لري.


۲۴- هغه ګډون کوونکي چې دلوړو زده کړو مؤسسو اویاپوهنتونوڅخه په لیږې پرتوسیموکې اوسېږي باید خپل انتخاب داسې وکړي ، چې دلیلیې ضرورت ورته پېښ نشي ؛ ځکه چې

لیلیه یو امتیاز دی او د مقرر سره سم یو ازي یو ټاکل شوي شمېر زده کوونکو ته ورکول کېږي او د دلیلیې ظرفیت ډېر محدود دی ، دلوړو زده کړو وزارت نشي کولای چې ټول ګډون کوونکي په لیلیه توګه جذب کړي ، بناء هغه کسان چې په لیلیه کې قبول نشي مکلف دي چې د اوسېدو ځای ، خوراک او خپل ټول لګښت اوړتیاوې په خپله برابر کړي.

**۲۵**- هغه شمېر زده کوونکي چې غواړي له اړوند پوهنځي څخه ځان منفک کړي باید د نتایجو له اعلان وروسته تر پنځو یشت ( **۲۵** ) ورځو پورې د پوهنځي له لارې د خپل انفکاک اقدام وکړي. که چېرې د غه کټګوري زده کوونکي ناوخته د غه کار ترسره کړي او په ورپسې آزموینه کې ګډون وکړي که چېرې کامیاب شي په دې صورت کې د یو کلن ناکام په حیث پېژندل کېږي.

## د ځوابونو او انتخاب پاڼې د ډکولو طریقه:

د ځوابونو پاڼه څلور برخې لري (ریاضیات، طبیعی علوم، اجتماعي علوم، السنه او عمومي معلومات) چې له **001** شمېرې څخه تر **160** پورې د سوالونو د کتابچې مطابق ترتیب شوي دي. د کانکور آزموینې ګډون کوونکی باید هر سوال د خپلې شمېرې سره سم د ځوابونو په پاڼه کې تورکړي.




شکل **1** د ځوابونو پاڼه

لکه څنګه چې (**1**) شکل کې لیدل کېږي د ځوابونو په پاڼه کې د عمومي آزموینې لپاره څلور جل برخې (ریاضیات، طبیعي علوم، اجتماعي علوم، السنه او عمومي معلومات) لیدل کېږي د اچې سوالونه له **001** څخه تر **160** پورې په مسلسله توګه راغلي دي، او د هر سوال په مقابل کې څلور ځوابونه موجود دي چې د هغوله جملې څخه یوازې یو ځواب سم دی او نور درې ځوابونه

غلط دي، نود ځوابونو په پاڼه کې هم د هرې شمېرې په مقابل کې څلور دايرې چې له چپ طرف نه په هره دايره کې يو، دوه، دری او څلور عددونه ليکل شوي دي، کله چې ګډون کوونکی د سوالونو په کتابچه کې د سوال سم ځواب پيدا کړي نو د ځوابونو په پاڼه کې د همغه سوال ځواب (يوله څلورو دايرو څخه) اړونده خانه يا دايره پيدا کړي او په پنسل سره دې يې ډلاندې (2) شکل مطابق توره کړي.




شکل 2 د تورولو سمه طريقه

په همدې ترتيب سره ټول سوالونه تورېږي. که چېرې ګډون کوونکی دکوم سوال د ځواب په مورد مطمئن نه وي بهتره ده چې سپين يې پرېږدي او په نښه يې نکړي، او کله چې د دويم ځل لپاره د سوالونو په ځوابونو باندې مرور کوي او د همدې سوال ځواب باندې يقيني شو نو بيا دې په سمه توګه همغه خانه توره کړي.


د بيا ځل لپاره يادونه کېږي چې هر سوال يوسم ځواب لري بايد يوازې د همغه اړوند سوال ځواب خانه په نرم پنسل باندې بشپړه توره کړي او د ډېرو خانو په تورولو داړوند سوال د ځواب نمره نه شمېرل کېږي او د ګډون کوونکي په زيان تمامېږي.

ګډون کوونکی بايد د پارچې له قاتولو او د قلم يا بل شي په ذريعه ورته ضرر رسولو څخه په کلکه ډډه وکړي، ځکه چې داسې کارونه د سکورماشين په ذريعه دپاڼې د نه لوستلو لامل ګرځي چې له دې سببه ګډون کوونکی بې نتيجه اعلانېږي.

## د سوالونو د کتابچې د فورم نمبر د ليکلو او تورولو طريقه:

د ځوابونو پاڼې په پورتني چپ طرف کې د رشتې انتخاب او ( ID نمبر ) ترڅنګ په مستطيل شکله چوکاټ کې چې په پورتنی قسمت کې يې څلور سپينې خالي خانې ليدل کېږي، ګډون کوونکی بايد د سوالونو کتابچې د فورم نمبر چې د کتابچې پرمخ د قوسونو په منځ کې ترستر ګو کېږي په همدغه خانو کې په عدد وليکي او بيا د هر عدد لاندې خانې د ممتحن استاد له لارښوونې


سره سمې تورې کړي، لکه څنګه چې د سوالونو کتابچې د فورم نمبر دلیکلو او تورولو طریقه په لاندې (3) شکل کې ښودل شوې ده.




شکل 3 د سوالونو د کتابچې د فورم نمبر د تورولو طریقه

## د ګډون کوونکي ای دی نمبر

د ځوابونو پاڼې په پورتنۍ برخه کې د سوالونو د کتابچې د فورم نمبر په چپ طرف کې د ( ID نمبر ) یو مربع شکل چوکات موجود دی، چې دغه ( ID نمبر ) د مخصوص ماشین په ذریعه د لاندې (4) شکل مطابق یې خانې تورې شوي دي، او ګډون کوونکی حق نه لري چې هغه تغیر، تراش او یا قلم خور کړي، که چېرې دا کار وکړي د آزموینې نتیجه یې د سکور (OMR) ماشین په ذریعه صفر اعلانېږي. ګډون کوونکي آی دی نمبر د مخصوص ماشین په ذریعه په اوتومتیکه توګه درج او تور شوی دی.




شکل 4 د ګډون کونکي آی دی نمبر

## د کوډ رشتې جدول:

دهر کال په آزموینه کې دپوهنتونونو او تحصیلي رشتو د انتخابولولپاره دکودرشتوجدول چې ببلګه یې په لاندې (5) شکل کې ښودل شوی دی، په عین شکل جدول تاسې ته هم درکول کېږي، چې د خپلې خوښې پوهنځي او رشتې کود نمبر پکې پیداکوي او د ممتحن استاد د لارښوونې سره سم یې د ځوابونو په پاڼه کې دمخکې (5) شکل مطابق درج اوتوره کړئ.

د ۱۳۹۱/۱۳۹۰ کال آزموینه کې دپوهنتونونو اوتحصیلي رشتو دانتخابولولپاره دکودرشتوجدول

| کابل پوهنتون | پوهنځی | دیپارتمنت | کود نمبر | پذیرش |
|---|---|---|---|---|
| | اقتصاد | عمومی | 001 | 300 |
| | شرعیات | د نجونو اسلامي زده کړې | 002 | 080 |
| | ځمکپوهنه | هایدرو مترولوژی | 003 | 060 |
| | | جیولوجی | 004 | 060 |
| | | د ژوند چاپیریال | 005 | 070 |
| | | جغرافیه | 006 | 080 |
| | حقوق | عمومی | 007 | 300 |
| | ټولنیز علوم | تاریخ عمومی | 008 | 080 |
| | | انسان پېژندنه او لرغون پېژندنه | 009 | 060 |
| | | فلسفه او ټولنپوهنه | 010 | 070 |
| | هنرهای زیبا | تیاتر | 011 | 090 |
| | | موسیقي | 012 | 050 |
| | | سینما | 013 | 050 |
| | | مجسمه | 014 | 050 |
| | | گرافیک | 015 | 050 |
| | | نقاشي | 016 | 050 |
| | ژبه او ادبیات | فرانسوي | 017 | 040 |
| | | آلماني | 018 | 040 |
| | | جاپاني | 019 | 040 |
| | | انګلیسی | 020 | 100 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | ترکي | 021 | 070 | |
| | پښتو | 022 | 120 | |
| | دري | 023 | 120 | |
| | عربي | 024 | 060 | |
| | روسي | 025 | 070 | |
| اروا پوهنه او ټولنیز علوم | اداره او منجمنت تربیتی | 026 | 050 | |
| | اروا پوهنه | 027 | 050 | |
| | پیداگوژی | 028 | 050 | |
| ژورنالیزم | عمومي | 029 | 150 | |
| انجنیری | سیول | 030 | 100 | |
| | برېښنا | 031 | 070 | |
| | میخانیک | 032 | 070 | |
| | مهندسي | 033 | 050 | |
| فارمسی | عمومي | 034 | 140 | |
| کمپیوتر ساینس | عمومي | 035 | 230 | |
| وترنری | عمومي | 036 | 120 | |
| کرنه | عمومي | 037 | 300 | |
| ساینس | عمومي | 038 | 500 | |
| عامه اداره | عمومي | 039 | 100 | |
| کیمیا | عمومي | 040 | 100 | |
| د کابل پوهنتون د ظرفیت مجموعه | | | 4240 | |

انجنیری سیول
کود 030

انجنیری مهندسی
کود 033

کمپیوتر ساینس
کود 035

کرنه
کود 037

پوهنحی ساینس
کود 038


شکل 5

د مثال په توګه: که چېرې ګډون کوونکی د (6) شکل مطابق خپل انتخابونه داسې ترتیب کړي چې لومړی انتخاب یې انجنیری مهندسی، دویم انتخاب انجنیری سیول، دریم انتخاب کمپیوټر ساینس او څلورم او پنځم انتخاب د زیات ظرفیت د جذب په خاطر زراعت او ساینس وي

په (6) شکل کې د تحصیلي رشتې د انتخاب لیکل او د هغې د تورولو طریقه ښودل شوې ده.

## د ځوابونو په پاڼه کې د تحصیلي رشتې یا د خپلې خوښې پوهنځي د انتخابولو طریقه:

- دهرې رشتې او پوهنځي د انتخاب لپاره په جلا توګه پنځه مستطیل شکله چوکاټونه ترسترګو کیږي، چې د هریوه په پورتني قسمت کې له نبي خوا نه دلاندې (6) شکل مطابق په ترتیب سره د تحصیلي رشتې او پوهنځي د انتخاب شمېرې په حروفو سره نښاني شوي دي، (لومړی انتخاب ، دویم انتخاب ، دریم انتخاب، څلورم انتخاب، پنځم انتخاب) او د هر انتخاب لاندې درې خالي خانې لیدل کېږي، ګډون کوونکي باید د خپلې انتخابي رشتې کوډ نمبر په عدد دونوولیکي او د هر عدد لاندې له صفره تر(9) پورې دایرې موجودې دي د پورتني عدد مطابق باید دایرې په پنسل تورې شي.
- د کانکور آزموینې هرګډون کوونکي لپاره تر پنځو تحصیلي رشتو پورې حق ورکړل شوی دی، چې د خپلې خوښې، علمیت او استعداد مطابق په ترتیب سره له اول نه تر پنځم پورې رشتې انتخاب کړي.
- ګډون کوونکی باید د ممتحن استاد د لارښوونې او د کوډ رشتې جدول سره سم د خپلې خوښې رشتې دا سې انتخاب کړي، چې لومړی په ټولو مناسبو ځایونو کې د کوډ رشتې ارقام په ډېر دقت سره ولیکي او وروسته یې په سمه توګه دلاندې (6) شکل مطابق تورکړي.




شکل 6 د پوهنځیو او تحصیلي رشتو د انتخابونو جدولونه

## د ځوابونو د پاڼې او تحصیلي رشتې د انتخابولو ژمنلیک:

د ځوابونو پاڼې په سر کې تعهد نامه لیدل کېږي، چې د ګډون کوونکي نوم، پلارنوم، نیکه نوم او تیلفون نمره د ماشین په ذریعه درج شوې ده او ګډون کوونکی د هغو لیکلو ته اړتیا نه لري، او په چپ طرف کې د لاندې (۷) شکل مطابق دوه مستطیل شکله چوکاټونه لیدل کېږي چې یو یې د ممتحن استاداو بل یې د ګډون کوونکي د لاسلیک لپاره دی، ګډون کوونکی باید په ټاکلي چوکاټ کې باسي لاسلیک وکړي چې له چوکاټ څخه بهر ونه وزي د تعهد نامې اړوند لارښوونه په لاندې (۷) شکل کې شوې ده.




شکل 7

## د ځوابونو د پاڼې د لوستلو طریقه:

د ځوابونو پاڼه د یوې خاصې دستګاه چې نړیوال شهرت لري (OMR) ماشین په ذریعه د ځوابونو د کیلی ګانو مطابق لولي او ارزیابي کوي یې. د یو خاص احصائیوي فورمول په واسطه د هر ګډون کوونکي د ځوابونو نمرې تعینېږي. دا فورمول په مختلفو هیوادونو کې کارول کېږي.
ټول معلومات په کمپیوټر کې د اسې محرم ساتل کېږي چې هیڅوک نشي کولای هغه ثبت شوي معلومات تغیر کړي.

## پوهنځیو او تحصیلي رشتو ته د وېشلو طریقه:

د هغو کسانو وېش یا معرفي کول چې د منلو شرایط یې پوره کړي وي، د کوم شخص له لاسوهنې پرته د کمپیوټر په ذریعه ترسره کېږي. د منلو عمده معیارونه عبارت دي له:

1. د مناسب انتخاب لرل
2. په یو پوهنځي او یا رشتې کې د شاملېدو د حداقل (ټیټې نمرې) پوره کول.
3. په یو پوهنتون او یا نیمه عالي موسسو کې د منلو ظرفیت.

## جزایي احکام:


په کانکور آزموینه کې ګډون کوونکي د سرغړونې د څرنګوالي په نظر کې نیولو سره په لاندې توګه مجازات کېږي:

- د ښوونځي د فراغت په اسنادو کې جعل کاري، له آزموینې د ګډون کوونکي د محرومېدو سبب کېږي او د مجازاتو لپاره اړوند وعدلي مراجعو ته ورپېژندل کېږي.
- که چېرې ګډون کوونکی برحال محصل وي له آزموینې څخه محروم، او د اړوند پوهنځي څخه منفک کېږي.
- که چېرې ګډون کوونکی د کوم پوهنتون اویا نیمه لوړو زده کړو موسسې څخه فارغ وي له آزموینې څخه محرومېږي.
- که چېرې د ګډون کوونکي پر ځای بل څوک په آزموینه کې ګډون وکړي، آزموینه یې باطله او د آزموینې له راتلونکو چانسونو څخه محرومیږي، او که چېرې د آزموینې د چانسونو حق نه لري، نو په دې صورت کې، د آزموینې ورکوونکي سره یوځای اړوند وعدلي مراجعو ته دواړه ورپېژندل کېږي.
- که چېرې په کانکور آزموینه کې ګډون کوونکی په نقل، د نظم او د سپلین خرابولو او یا د آزموینې د صحنې پرخلاف عمل د سرغړونې د څرنګوالي په نظر کې نیولو سره په لاندې توګه مجازات کېږي:

الف: توصیه. ب: له آزموینې څخه محرومېدل. ج: په راتلونکو آزموینو کې د شاملېد د حق سلبېدل.

هغه ګډون کوونکي چې په یو کال کې له یو ځل څخه زیات شرکت وکړي آزموینه یې باطلېږي.

په لاندې شکل کې د ځوابونو د پاڼې بشپړ انځور ښودل شوی دی:


د داوطلب لاسلیک
امضاء داوطلب
امضاء ممتحن
وزارت تحصیلات عالی
ریاست امتحانات
247481
محل امتحان:
نمبر اطاق:
د داوطلب عکس
اسم (نوم) : احمد جواد
پدر (د پلار نوم) : احمد سلطان
ولدیت (د لیکه نوم): عبدالروف
نمبر تیلفون (د تیلفون نمبر) : 0770909452
تعهد: اینجانب که شهرتم در فوق ذکر است، رشته مورد نظر خویش را با دقت کامل انتخاب نموده ام و در آینده خواهش تبدیلی رشته را در داخل پوهنتون یا مؤسسه تحصیلی و یا به پوهنتون و یا مؤسسه تحصیلی دیگر ندارم.
پریکړه: زه چې شهرت مې پورته لیکل شوی دی تحصیلي رشته مې په نمره دقت سره انتخاب کړې ده او په آینده کې د رشتې د تبدیلۍ خواهش د پوهنتون په داخل و یا تحصیلي مؤسسې کې او یا بورې پوهنتونونو او یا تحصیلي مؤسساتو نه نلرم.
۳. انتخاب پوهنځی ها
اول دوم سوم چهارم پنجم
۱. نمبر فارم
۲. نمبر آی دی (ID) 0539040404
طرز سیاه کردن درست
سیاه کردن غلط
ریاضیات
ریاضیات
علوم طبیعی
علوم طبیعی
علوم اجتماعی
السنه و معلومات عمومی

# دويمه برخه

دیني پوښتنې

1. په دې مبارک ایت کې (وَمَن لَمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلاً أن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ) د (الْمُحْصَنَاتِ) کلمه څه مانا ورکوی:

الف: پاک لمنې ښځې ب: نېکې ښځې ج: پوهې ښځې د: آزادې ښځې

2. حدیث په اصطلاح کې:

الف: د پیغمبر(ص) خوب، ویل او بیان ب: د اصحابو کرامو(رض) قولونه او ویناوې

ج: د اصحابو او تابعینو (رض) ویناوې او بیانونه د: د پیغمبر(ص) کړنې اوویناوې

3. په حدیث کې د (ولاتدابروا) د کلمې سمه ترجمه:

الف: یو بل ته ضرر مه رسوئ ب: یو بل ته کنځلې مه کوئ

ج: یو له بل څخه مخ مه اړوئ د: یو بل مه بندي کوئ

4. قرانکریم د لومړي ځل لپاره په ټولیز ډول له کوم ځای څخه نازل شوی دی:

الف: له اووم اسمان نه ب: له لوح محفوظ نه ج: لهعرش نه د: لهلومړي اسمان نه

5. په دې حدیث کې (ما اکلَ اَحدٌ طَعاماً قط خیرا من ان یاکل من عمل یَدَ یهِ) کومې لاندینۍ موضوع ته اشاره شوې ده:

الف: د پور ورکولو فضیلت ب: د سوال کولو بدي بیانول

ج: د مزدور د ګټې فضیلت د: له حرام مال څخه د ځان ساتلو فضیلت

6. په دې مبارک ایت کې (فَقَالَ أَنبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَؤُلاء) د (أَنبِئُونِي) مانا:

الف: زما عبادت وکړئ ب: ما ته خبر راکړئ

ج: زماله عذاب څخه ځان وساتئ د: زما د رحمت هیله ولرئ

7. په دې حدیث شریف کې (السّخاشجرة فِی الجنةِ فَمَن کان سخیاً اخذ بغُصنٍ مِنهَا) کومه لاندینۍ کلیمه د ونې د ښاخ مانا ورکوي:

الف: غصن ب: شجرة ج: شجرة فی الجنة د: السخا شجرة

8. په (واستحلوا امحارم) حدیث شریف کې د (محارم) کلمه عبارت له هغو څخه ده چې:

الف: د احترام وړوي ب: له هغو سره کښناستل ناروا وي
ج: له هغو سره نکاح کول ناروا وي د: د راز ساتونکي او محرم راز وي

9. امام ابو حنیفه (رح) انبیا(ع) له کومو ګناهونو څخه پاک بولي:
الف: لویو او وړو ب: یوائې لویو ج: یوائې وړو د: نه لویو او نه وړو

10. د لوی ګناه له کولو وروسته نېک عمل وکړه، د کوم لاندې عبارت ژباړه ده:
الف: واتبع ب: واتبع السّيِّئَةُ ج: واتبع السّيِّئَةُ الحسنة د: دوهم عبارت سم دی

11. د (فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا) مبارک آیت کې په کومه مانا دلالت کوي:
الف: نو بیا ولوېدئ ب: نو بیا تیار شوئ ج: نو بیا وګرځېدئ د: نو بیا سم شوئ

12. د (لاَ رَيْبَ) کلمه په دې (ذَلِكَ الْكِتَابُ لاَ رَيْبَ فِيهِ) مبارک آیت کې په کومه مانا دلالت کوي:
الف: شک او باور نشته ب: اصلاح نشته
ج: هېڅ شک او شبهه نشته د: له لارې ګرځېدل او غلطي نشته

13. د اسلامي شریعت احکام په لاندې برخو وېشل شوي دي:
الف: دري برخو ب: پنځه برخو ج: دوه برخو د: څلورو برخو

14. که پېرېدونکی شی (مبیعه) په تاوان خرڅ شوی وي دې ته کوم ډول بیعه وایي:
الف: تولیه ب: مساومه ج: وضعیه د: مرابحه

15. که پېرېدونکی او پلورونکی له خپلې بېې او نرخ پرته په بله بیه سره سلا شي، نو دې ته کوم ډول بیعه وایي:
الف: مساومه ب: وضعیه ج: مرابحه د: تولیه

16. د بیعې لپاره څو شرطونه ضرور دي:
الف: دري شرطونه ب: دوه شرطونه ج: یو شرط د: څلور شرطونه

17. اقاله په لغت کې:

الف: رفعې ته وايي ب: پرېښودلو ته وايي ج: رسېدلو ته وايي د: تېرېدلو ته وايي

18. ( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ ) دا مبارک آيت د څه شي د جواز دليل دی:

الف: اقالې دی ب: سلم دی ج: کفالت دی د: ضمانت دی

19. يهودانو د الله پاک کوم نومونه ډېر استعمالول:

الف: الملک ب: القدوس ج: الرحمن د: الرحيم

20 علماوو کرامو د قبرونو د زيارت د ادابو په اړه څه ويلي دي:

الف: لومړی دوه رکعته لمونځ او بيا د مړي په حق کې دعا وکړئ

ب: قبلې ته دې مخ واړوي او مړي ته دې دعا وکړي

ج: يو څو شېبې دې ودرېږي او مړي ته دې دعا وکړي

د: يو څاروی دې حلال کړي او مړي ته دې دعا وکړي

21 علمای کرام وايي په امربالمعروف او نهی عن المنکر( نيکيو ته په بللو او له بديو څخه منعه کولو ) کې يو د لاندنيو مطلبونو څخه ضرور دی:

الف: مبلغين بايد نېکي او بدي وپېژني

ب: په نرمۍ سره خلک نېکيو ته وبولي او له بديو يې منعه کړي.

ج: د تبليغ کوونکي مرام يوازې د الله (ج ) رضا وي

د: ټول سم دي

22 (تنکح المرة لاربع لمالها ولحسبها ولجمالها ولدينها ) په حديث کې د (حسبها ) کلمه دا معنی ورکوي:

الف: د کورنۍ منزلت او مقام ب: ځاني يا فردي منزلت او مقام

ج: ټولنيز منزلت او مقام د: تقوی او ديندارې

23 (الکيس من دان نفسه ) په دې مبارک حديث کې د (الکيس ) کلمه څه معنا ورکوي:

الف: هوښيار ب: زغم کوونکی ج: روغ او سالم د: پوه

24 (ان شرّالناسِ عِندَاللهِ یوم القیامة امام جائر ) په دې مبارک حدیث کې ( جائر) دا معنی ورکوي:
الف: سخت زړی ب: بد خویه ج: ظالم د: بد

25 کوم لاند ښی سورت ام القران بلل کېږي:
الف: البقره ب: الفاتحة ج: التکویر د: القارعه

26 په نېکو اعمالو کې توسل په څو ډوله دی:
الف: درې ډوله ب: یو ډول ج: دوه ډ وله د: څلور ډوله

27 د عین تبادله په ثمن (د معلوم او معین مال اخیستل د پیسو په بدل کې) کوم ډول بیې ته ویل کېږي:
الف: مطلقه بیه ب: سلم بیه ج: صرف بیه د: مقایضه بیه

28 د بیعې لپاره څو شرطونه ضرور دي:
الف: درې شرطونه ب: دوه شرطونه ج: یو شرط د: څلور شرطونه

29 د ایجاب او قبول نه وروسته څه وخت بیعه ثابتېږي:
الف: سمدلاسه ثابتېږي ب: وروسته ثابتېږي
ج: د عقد د کولو لپاره زمینه برابرېږي د: د عقد لپاره یوه هیله پیدا کېږي

30 (السلام علیکم یا اهل القبوریغفرالله لنا ولکم وانتم سلفنا ونحن باالاثر) په دې حدیث شریف کې (باالاثر) په دې معنی دی:
الف: تېرشوي ب: راتلونکي ج: انتظارکوونکي د: لیدونکي

31 عبادت د عین په پښې سره دا معنی ورکوي:
الف: د ناروغ پوښتنه ب: ببرته ګرځېدل ج: حاضرېدل د: له سره کول

32 د نکاح رکنونه عبارت دي:
الف: د مهر ټاکل ب: د ګواهانو حاضرېدل ج: ایجاب او قبول د: عقد

33 کوم لاندينی سورت سبع المثانی نومېږي:
الف: الفاتحه ب: البقره ج: الانفال د: التوبه

34 مفسرين وايي چې الهمزه سورت ديو لاندينې کس د بدو اخلاقو په هکله را نازل شوی دی:
الف: ابوجهل ب: ابی ابن خلف ج: ابولهب د: شيبه

35 (الْقَارِعَةُ١ مَا الْقَارِعَةُ) په دې مبارکو آيتونو کې (الْقَارِعَةُ) په دې معنی سره راغلی دی:
الف: قيامت ب: د برزخ ژوند ج: د صراط پل د: دوزخ

36 د وړوکي عقد کوونکي (چې د ښو او بدو فرق کولی شي) تصرفات په څو ډوله دي:
الف: دوه ډوله ب: درې ډوله ج: يو ډول د: څلور ډوله

37 مکروه بيعه کومه ده:
الف: چې اصلاً سمه وي ب: چې وصفاً او د صفت له مخې سمه وي
ج: چې اصلاً او وصفاً دواړه سم وي د: چې اصلاً سمه نه وي

38 د حرا په غارکې د کوم مبارک سورت پنځه آيتونه په نبي (ص) نازل شوي دي:
الف: المدثر ب: العلق ج: المزمل د: البقره

39 معراج په کومه وسيله نقل شوی دی:
الف: د فرشتو په وسيله ب: د براق په وسيله
ج: د جبرايل(ع) په وسيله د: د اسرافيل(ع) په وسيله

40 صدأد هغه وژل چې مسؤليت ونلري لکه: د لېونې د کوم لاندې نې قتل حيثيت لري:
الف: په خطايي قتل ب: قصداً قتل ج: قصداً ته ورته قتل د: په علت سره قتل

41 کله چې يو څوک په ويدو څوک لاندې او مړ کړي، نو د دې ډول قتل حکم څه دی:
الف: قصداً قتل ب: خطايي قتل ج: قتل په علت سره د: قصداً ته ورته

42. ذمي هغه څوک دی چې په اسلامي خاوره کې اوسېږي، هغه تل خوندي ده، نو بیا مسلمان د ذمي، غلام، لېونی او معیوب په بدل کې قصاص کېږي او که نه:
الف: قصاص کېږي ب: مُثله کېږي ج: یوازې کفاره به ورکوي
د: هغه لپاره تعذیر دی(تعذیر دې ته وایي چې د قاضي لخوا تأدیبا په ده باندې څه شی اېښودل کېږي چې دا سزا په شریعت کې نه وي، خو د دې لپاره یې ورکوي، چې بیا داسې کار ونکړي)

43. کوم مشهور امام وایي چې: قاتل باید هغسې ووژل شي، څنګه یې چې مقتول وژلی دی:
الف: امام ابو حنیفه (رح) ب: امام شافعي(رح) ج: امام مالک (رح) د: امام ابو یوسف (رح)

44. دا مبارک آیت:( إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ) د الله(ج)په یوه ذاتي صفت دلالت کوي:
الف: کلام ب: اراده ج: بصر د: حیات

45. د الله(ج) ذاتي صفتونه څو دي:
الف: اووه ب: شپږ ج: اته د: پنځه

46. د (اللَّهُ لَا إِلَـهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ) ایت کریمه په یوه ذاتي صفت د الله تعالی دلالت کوي:
الف: حیات ب: اراده ج: قدرت د: علم

47. (وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي الأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللهِ رِزْقُهَا ) د الله تعالی په یوه ذاتي صفت دلالت کوي:
الف: تخلیق ب: ترزیق ج: اعزاز د: احیا

48. یو د لاندې سورتونو څخه د شفا په نوم یاد شوی دی:
الف: الانفال ب: البقره ج: الفاتحه د: الفیل

49. په قرانکریم کې تر ټولو اوږد سورت کوم یو دی:
الف: الانفال ب: البقره ج: التوبه د: الکهف

50. آیت الکرسي په کوم مبارک سورت کې ځای لري:

الف: النسا ب: البقره ج: آل عمران د: التوبه

51 (وَلاَ تَأْكُلُوهَا إِسْرَافًا وَبِدَارًا ) په دې آیت کریمه کې (بِدَارًا ) لاندې معنی افاده کوي:
الف: د اړتیا څخه زیات ب: په ناحقه ج: په تېزي د: په ظلم

52 (علامة المنافق ثلاثة اذا حدث كذب ) په دې مبارک حدیث کې (حدث ) دا معنی ورکوي:
الف: خبرې کوي ب: خبر ورکړي ج: تعلیم ورکړي د: راپور ورکړي

53 که یوه ډله په ګډه یو نفر ووژني، نو ټول د مقتول په بدل کې قصاص کېږي پورتنی حکم په کومه مرجع ثابت دی:
الف: د الله کتاب ب: نبوي احادیث ج: اجماع د: قیاس

54 که څو تنه د یوه کس د لاس په پرېکولو کې برخه واخلي د موضوع په هکله څه حکم دی:
الف: د ټولو لاسونه غوڅېږي ب: د ټولو لاسونه نه غوڅېږي
ج: له ټولو څخه د یوه تن لاس غوڅېږي د: ټول دې تعذیر کړی شي

55 (المسلمون تتكافا دماهم فا لمراة تتكافا رجل ) په دې مبارک حدیث شریف کې د (تتكافا ) کلمه دا معنی ورکوي:
الف: برابر او مساوي دي ب: تغیر دي ج: سره ورته او مشابه دي د: مقابل دي

56 قصاص په څو حالتونو کې ثابتېږي:
الف: درې حالته ب: دوه حالته ج: یو حالت د: څلور حالته

57 د (انه كان عليماً قديرا ) مبارک آیت د الله تعالی په کوم صفت دلالت کوي:
الف: حیات ب: قدرت ج: علم د: کلام

58 (وَهُوَ الذِيَ أَنشَأَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ ) مبارک آیت د الله تعالی په یوه فعلي صفت دلالت کوي:
الف: تخلیق ب: ترزیق ج: احیا د: اعزاز

59 په حضرت شیث(ع) څو صحیفې نازلې شوې وې:

الف: ۱۰ ب: ۱۰۰ ج: **۵۰** د: ۳۰

60. (آمَنّا بِرَبِّ هَارُونَ وَمُوسَى) دغه اقرار د لاندې ډلو څخه یوې کړی دی:
الف: ساحرانو، کوډګرو ب: د فرعون کابینې
ج: عامونندارہ کوونکو د: د فرعون سلاکارانو

61. شاه ولي الله په حجت البالغه کې د دین تر ټولو مهمې څو نبۍ معرفي کړې دي:
الف: ۳ ب: **۵** ج: ۴ د: ۲

62. د بدر له غزا وروسته د الله (ج) یو له دې لاندې دښمنانو څخه د زخمي کېدو له کبله مسموم او بیا مړ شو:
الف: ابو لهب ب: صفوان ج: ابو جهل د: عتبه

63. (فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍ) په دې آیت کې الله (ج) (مِّن مَّسَدٍ) له کوم لاندې نبي شي سره تشبیه کوي:
الف: د خرماوو لیف (لیف: د خرما وو له ډډ نه رابېل شوي پوټکي ته وایي چې پخوا به ترې پرې جوړېدل) ب: داور زنځیر ج: د دوزخ غړندی د: د وچو کورسۍ

64. (وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ) په دې مبارک آیت کې (إِذَا وَقَبَ) دا ډول ژباړل کېږي:
الف: منتشر(خپور) شي ب: تیاره شي ج: کامیاب او غالب شي د: ښکاره شي

65. لومړنۍ ګناه چې په هغه کې په ځمکه او آسمان کې د الله تعالی نافرماني شوې عبارت ده له:
الف: کینه ب: کبر ج: غیبت د: جاسوسي

66. د قصاص د حکم پلي کول د چا واک او صلاحیت دی:
الف: د مقتول(وژل شوي) د ولي صلاحیت دی ب: د حاکم صلاحیت دی
ج: د عامو خلکو صلاحیت دی د: د دیني علماوو صلاحیت دی

67. قصاص د څو عاقلو او عادلو کسانو په ګواهي ثابتېږي:
الف: دوه کسو ب: درې کسو ج: یو کس د: څلور کسو

68. که څوک د اول الامر د اجازې نه پرته قاتل قصاص کړي مجرم په لاندې ډول دی:
الف: تعذیر پرې لازمېږي ب: قصاص پرې لازمېږي
ج: کفاره پرې لازمیږي د: دیت پرې لازمېږي

69. له نفس پرته (دلاس، سترګې .....) قصاص په څو ډوله دی:
الف: دري ډوله ب: دوه ډوله ج: یو ډول د: څلور ډوله

70. د (وکان الله بکل شیء علیماً) آیت د الله(ج) د لاندې ذاتي صفتونو څخه په یوه باندې دلالت کوي:
الف: کلام، خبره ب: بصر، لیدل ج: علم، پوهه د: اراده، هوډ

71. د (تُؤْتِي الْمُلکَ مَن تَشَاء وَتَنزِعُ الْمُلکَ مِمّن تَشَاء) آیت د الله(ج) د لاندې ذاتي صفتونو څخه په یوه باندې دلالت کوي:
الف: تخلیق ب: اعزاز ج: ابداع د: ترزیق

72. د (اِقرَأ کِتَابَکَ کَفَی بِنَفْسِکَ الْیَوْمَ عَلَیْکَ حَسِیبًا) مبارک آیت په کوم لاندې ني مفهوم دلالت کوي:
الف: د ټولې عملنامې لوستل ب: د ښو عملونو لوستل
ج: د نېکو عملونو لوستل د: د بدو عملونو لوستل

73. د ایجاب او قبول په هر عقد کې یو د لاندې لفظونو څخه وي:
الف: تېر ب: دستي(سملاسي) ج: راتلونکی د: امر

74. (علیکم باالصدق فان الصدق یهدی الی البر) مبارک حدیث چا روایت کړی دی:
الف: حضرت عبد الله بن عمر ب: حضرت ابو هریره
ج: حضرت عبدالله بن مسعود د: حضرت ابو موسی الاشعری

75. د (ومایزال الرجل یصدق ویتحری الصدق حتی یکتب عند الله صدیقاً) په مبارک حدیث کې د (یتحری) کلمه دا معنی ورکوي:

الف: فکر او کوښښ کوي ب: وايي ج: سرته يې رسوي د: آزادوي يې

76. (ایاکم والکذب) په مبارک حدیث کې د (ایاکم) کلمه په دې معنی ده:
الف: ستاسو لپاره ب: ستاسو دښمنان ج: ستاسو د لارې ملګري د: ځان وساتئ

77. (رب غفرلی وهب لی ملکاً لا ینبغی لاحد من بعدی) دا دعا د کوم نبي ع اړوندده:
الف: داود(ع) ب: نوح(ع) ج: هود(ع) د: سلیمان(ع)

78. د ایمان او اسلام آخروي حکم په لاندې ډول دی:
الف: د الله په فضل سره جنت ته داخلېدل دي ب: د الله په فضل د دوزخ له اور څخه خلاصون دی ج: د الله رضا او خوښي ده د: ټول سم دي

79. د خیار شرط (د اختیاري شرط لپاره) څو طریقې او لارې شته:
الف: درې ب: دوه ج: څلور د: یوه

80. که مبیعه (د خرڅلاو مال) د بایع (پلورونکي) په لاس کې وي د بیعې عقد د چا په وینا فسخ کېږي:
الف: بایع ب: د قاضي په قضاوت ج: اخیستونکي د: د پلورونکي رضا

81. (ان رجلاً قال یا رسول الله متی الساعة قال رسول الله ویلک وما اعددت لها) د دې مبارک حدیث راوي څوک دی:
الف: حضرت عبد الله بن مسعود (رض) ب: حضرت انس (رض)
ج: حضرت عبدالله بن عمر (رض) د: حضرت عایشه (رض)

82. د خیار تر ټولو مهم ډولونه په لاندې ډول دي:
الف:درې ب: څلور ج: دوه د: پنځه

83. (ان الله تعالی یقول یوم القیامه این المتحابون) په دې حدیث کې (متحابون) دا معنی افاده کوي:
الف:مینه او محبت کوونکي ب: مناقشه کوونکي ج: سیالي کوونکي د: سوله کوونکي

84. (تفضل الصلوة التی یستاک لها ) په دې حدیث مبارک کې (یستاک ته اشاره کوي:
الف: اودس دې وکړی شي ب: مسواک دې ووهل شي
ج: لمونځ دې په جمعې سره وشي د: د لمانځه ځای دې انتخاب کړی شي

85. په ځینو فتواګانو کې راغلي چې (ان المنتقل یعزر ) په دې جمله کې (یعزر )دا معنی ورکوي:
الف: ودې نیول شي ب: خبردې شي ج: ځیر دې شي د: د حاکم او واکمن لخوا دې وترتل شي

86. له شک پرته د څلورو مذهبونو خلاف کوونکي د اجماع د خلاف په څېر دي، دغه قول د کوم یوه پوه دی:
الف: امام حنبل ب: امام ابو حنیفه ج: امام شافعي د: سبکی

87. د اصولو په علم کې تلفیق د مذهبونو په اجماع داسې دی:
الف: مباح ب: مکروه ج: ناروا د: مستحب

88. ( إِن تَسْخَرُواْ مِنّا فَإِنّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ) په دې آیت مبارک کې (ان تسخر ) دا معنی ورکوي:
الف: که یې مسخره کړئ ب: که یې چمتو کړئ ج: که ریشخندي وکړئ
د: که لېږې والی وکړئ

89. د ایمان سره علم په عبادت:
الف: غوره والی لري ب: غوره والی نلري
ج: مرجح( نسبتا غوره ) دی د: راجع (ډېر غوره ) دی

90. ( أَنبِئُونِي بِأَسْمَاء هَؤُلاء ) د ( أَنبِئُونِي ) کلمه په دې آیت کریمه کې دا معنی ورکوي:
الف: زما عبادت وکړئ ب: ما ته خبر راکړئ
ج: ما یاد کړئ د: زما اطاعت وکړئ

91. که څوک یوه نجلۍ په نکاح کړي او له کوروالە مخکې یې طلاقه کړي، له دې طلاقې شوې سره نکاح څه حکم لري:
الف: جواز لري ب: جواز نلري ج: مکروه ده د: حرامه ده

92. تعزیر هغه دی چې د هغې اندازه د لاندې مرجع په بنسټ تعین شوې وي:
الف: د الله کتاب ب: نبوي احادیث ج: د امت اجماع د: اولی الامر

93. حد په هغې پایلې اطلاق کېږي چې د هغې له جملې نه:
الف: د الله حق دی ب: د بنده حق دی ج: د حاکم حق دی د: د محکوم حق دی

94. ( تِلکَ حُدُودُ اللهِ فَلاَ تَقْرَبُوهَا ) په دې مبارک آیت کې حدود کوم مفهوم افاده کوي:
الف: قصاص ب: تعزیر ج: ګناهونه د: موانع

95. د حد مشروعیت او روا والی په لاندې مراجعو ثابت شوی دی:
الف: د الله کتاب ب: نبوي احادیث ج: د امت اجماع د: ټول سم دي

96. بني اسرایلو د کوم شریر له واک نه خلاصون موندلی وه:
الف:فرعون ب: نمرود ج: شداد د: قارون

97. په دې ( اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ ) آیت کریمه کې (مَا شِئْتُمْ) څنګه ترجمه کېږي:
الف: هغه څه چې غواړئ ب: هغه څه چې مو غوښتل
ج: هغه څه چې غواړي د: هغه څه چې غواړې

98. د الله لخوا په موسی ع د تورات نزول د چا غوښتنه وه:
الف: موسی (ع) ب: هارون (ع) ج: د بني اسرائیلو د قوم د: سامري

99. په دې ( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا ) مبارک آیت کې (تَسْتَأْنِسُوا ) دا معنی ورکوي:
الف: ترڅو ډاډه نشئ ب: ترڅو چې اجازه درنکړی شي
ج: ترڅو چې اجازه وانخلئ د: ترڅو چې اجازه درکړل شي

100.(السخا شجرة فی الجنة فمن کان سخیاً اخذ بعض منها ) په دې حدیث کې غصن دامعنی راکوي:
الف: پانه ب: ډډ ج: ښاخ د: مېوه

101.( فَهَبْ لِي مِن لَدُنکَ وَلِيًّا ) د دې مبارک آیت له محتوا څخه معلومېږي چې دا دعا دغه پیغمبر(ع) کړې ده:
الف: ابرهیم(ع) ب: موسی(ع) ج: خضر(ع) د: ذکریا(ع)

102.که هبه د شخص لپاره پردی شوی وي حکم د ښځه ورکړځېدلو هبې ته د احنافو په وړاندې په لاندې ډول دی:
الف: په کراهت سره جواز لري ب: بې له کراهته جواز لري
ج: مستحب دی د: حرام دی

103.صرف په لغت کې:
الف: نقل ته وایي ب: رد ته وایي ج: زیاتوالي ته وایي د: ټول سم دي

104.اقاله د فقهاوو په اصطلاح:
الف: د عقد رفع کولو ته وایي ب: د عقد انعقاد ته وایي
ج: د عقد صحت ته وایي د: د عقد نه جواز ته وایي

105.دیت په څه شي ثابت دی:
الف: د الله کتاب ب: نبوي احادیث
ج:دامت اجماع د: ټول سم دي

106.د جنایت په سبب دیت په چا باندې لازمېږي:
الف: هغه جاني او جنایتکار چې عاقل وي ب: د چا سره چې جنایت شوی
ج: بیت المال د: عام خلک

107. دیت په څو ډوله دی:

الف: دوه ډوله ب: دری ډوله ج: څلور ډوله د: یو ډول

108.مضارعت د لاندې علماو څخه د یوه په وړاندې جواز لري:
الف: امام ابو حنیفه (رح) ب: امام شافعي (رح) ج: امام مالک (رح) د: یاران (رح)

109.مضارعت په څو ډوله دی:
الف: څلور ب: دری ج: پنځه د: دوه

110.(اتق الله حیث ماکنت) په دې مبارک حدیث کې د (حیث ماکنت) کلمه په دې معنی ده:
الف: هر ځای چې وي ب: هر ځای چې وا ېی ج: هر ځای چې وې د: هر ځای کې چې وئ

111.(بال اعرابی فی المسجد) په دې جمله کې د (بال) کلمه په دې معنی ده:
الف: په جومات کې داخل شو ب: په جومات کې کښاسته
ج: په جومات کې یې بولې وکړې د: په جومات کې حاضر شو

112.(وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ) دا آیه کریمه یو د لاندې مفاهیمو څخه افاده کوي:
الف: طعنه ویونکي ب: عیب لټوونکي ج: غیبت کوونکي د: دخبرو راټولوونکي

113.(كَلاَّ لَيُنبَذَنَّ فِي الحُطَمَةِ) په دې آیت کریمه کې (الحُطَمَةِ) په دې معنی سره دی:
الف: قبر ب: د برزخ ژوند ج: دوزخ د: جنت

114.مصاهرت د څو ډوله ښځو سره په تلپاتې ډول دنکاح حرامو الی ثابتوي:
الف: دوه ډوله ب: درې ډوله ج: څلور ډوله د: شپږ ډوله

115.د (بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ) آیت د الله تعالی په دې صفت دلالت کوي:
الف: احیاء ب: ترزیق ج: ابداع د: اعزاز

116.د (وَاللهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ) آیت د الله تعالی په یو ددې صفتونو باندې دلالت کوي:
الف: علم ب: کلام ج: قدرت د: بصر

117.په جمعې سره لمونځ کول:

الف: واجب دی ب: سنت دی ج: فرض دی د: مستحب دی

118.د غلا حد یو د لاندې مراجعو څخه ثابت دی:
الف: د الله کتاب ب: نبوی احادیث ج: د امت اجماع د: ټول صحیح دي

119.د یوه عاقل او بالغ کس د څو درهمو د غلاکولو په صورت کې لاس پرې کېږي:
الف: ۱۲ ب: ۱۰ ج: ۱۵ د: ۲۰

120.د غلا حد د څو تنو په ګواهی ثابتېږي:
الف: د یوه تن ب: دوو تنو ج: درې تنو د: شپږو تنو

121.(لعن رسول الله ص اکل الربا وموکله وشاهده وکاتبه ) په حدیث شریف کې د (موکله) کلمه دغه معنی ورکوي:
الف: سود خورونکی ب: سود ورکوونکی
ج: سوداخیستونکی د: د سود سره مینه کوونکی

122.د سود د حرمت علت څه شی دی:
الف: جنس ب: قدر ج: جنس او قدر د: مماثلت

123.د (التاجرالصدوق الامین مع النبیین والصدیقین والشهداء) حدیث کوم صحابي روایت کړی دی:
الف: ابوالسعیدالخدری ب: عبدالله بن عمر ج: ابوهریره د: عبدالله بن مسعود

124.د (الساعی علی الارمله والمسکین کالمجاهدین فی سبیل الله) په حدیث کې د (الارمله) کلمه دا معنی ورکوي:
الف: غریبه ښځه ب: زړه ښځه ج: سوالګره ښځه د: کونډه ښځه

125.( لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحصِرُواْ فِي سَبِيلِ اللهِ) مبارک آیت دچاپه هکله نازل شویدی:
الف: د کهف د اصحابو په هکله ب: د صفې د اصحابو په هکله
ج: د مهاجرینو په هکله د: د انصارو په هکله

126.( فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ) په دې مبارک آیت کې (كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ) څرنګه ترجمه کېږي:
الف: د خوړو وړ وانبه ب: د خوړل شوو وښو پاتې شونې
ج: د څارویو وانبه د: وچ وانبه

127.(لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ ١ إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ) په دې مبارک آیت کې د (رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ) موخه کومې ځمکې ته سفر دی:
الف: په ژمي کې یمن ته او اوړي کې شام ته ب: ژمی په شام کې او اوړی په یمن کې
ج: په ژمي کې فلسطین او په اوړي کې یمن د: په اوړي کې فلسطین او په ژمي کې شام

128.په نکاح کولو کې د مسلمان موخه څه ده:
الف: د نبوي سنتو اداکول ب: تولد او تناسل (زوکړه او د نسل دوام )
ج: د محمد ص د امت زیاتوالی د: ټول سم دي

129.د ښځې نفقه څه وخت په مېړه لازمېږي:
الف: کله چې خاوند ته ځان وسپاري ب: مخکې له دې چې خاوند ته ځان وسپاري
ج: د نکاح د ترلو په وخت کې د: د ایجاب او قبول په وخت کې

130.د عدت په وخت کې د طلاقې شوې ښځې نفقه په چا ده:
الف: په مېړه باندې ب: په طلاقې شوې ښځې باندې
ج: د مېړه په خپلوانو د: د ښځې په خپلوانو

131.که څوک شراب حلال وګڼي:
الف: مطلق کافر کېږي ب: فاسق کېږي ج: ګنهګار کېږي د: فاجر کېږي

132.(الخمر ام الفوحش واکبرالکبار ) دا مبارک حدیث کوم صحابي روایت کړیدی:
الف: عبدالله بن عمر (رض) ب: عبدالله بن مسعود (رض)
ج:عبدالله بن عباس (رض) د: ابوهریره (رض)

133.د شرابو حرامو الی په څه شي ثابت شویدی:

الف: قطعي دليل ب: نبوي احاديث ج: د امت اجماع د: ټول سم دي

134.د مزارعت د جواز لپاره څو شرطونه دي:
الف: ۲ ب: ۸ ج: ۵ د: ۷

135.(خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ) د دې مبارک آیت د صدقې څخه موخه کوم مفهوم دی:
الف: هبه ب: زکوة ج: صدقه د: نذر

136.په صدقه کې ولی رجوع (بېرته ګرځېدل) جواز نلري:
الف: د صدقې مطلب ثواب دی او هغه حاصل شوی دی
ب: د سخاوت خلاف کار دی ج: وړه ګناه ده د: لویه ګناه ده

137.(من سن فی الاسلام سنة حسنه فله اجرها) په دې مبارک حدیث کې د (سن) کلمه په دې معنی ده:
الف: پیروي یې وکړه ب: تعلیم یې ورکړ
ج: بنسټ یې کېښود د: لیرې والی یې وکړ

138.(اذا مات الانسان انقطع عمله الامن ثلاثة صدقه جاریه او علم ینتفع به او ولد صالح یدعو له) په دې حدیث کې (او علم ینتفع به) په دې معنی دی:
الف: هغه علم چې د هغه په وسیله یې استفاده وکړه
ب: هغه علم چې د هغه په وسیله استفاده کوي
ج: هغه علم چې استفاده کېږي د هغه په وسیله
د: هغه علم چې د هغه په وسیله استفاده وشوه

139.(انه بکل شیً علیم) مبارک آیت د الله تعالی په یو دلاندې ذاتي صفتونو باندې دلالت کوي:
الف: کلام ب: علم ج: بصر د: اراده

140.(لِلّٰهِ مُلْکُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا يَخْلُقُ مَا يَشَاء) مبارک آیت د الله (ج) په یو د فعلي صفتونو باندې دلالت کوي:
الف: احیاء ب: ترزیق ج: ابداع د: اعزاز

141.لومړی کس چې تر ټولو د مخه يې د قدر په هکله خبرې کړې وې څوک وه:
الف: عزرايیل (ع) ب: اسرافیل(ع)
ج: جبرايیل او میکايیل (ع) د: هاروت او ماروت

142.هغه وخت چې یو انسان په قصد سره یو عمل کوي مستحق دی:
الف: د ستاینې وړ دی ب: د ذم (بهتان ) وړ دی
ج: د ثواب او عذاب وړ دی د: ټول سم دي

143.( أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَآجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رِبِّهِ) په مبارک آیت کې د ابراهیم (ع) دښمني له یوه سرکش سره ښیي:
الف: فرعون ب: نمرود ج: شداد د: قارون

144.په اسلام کې د جهاد حکم څه شی دی:
الف: فرض قطعي ب: واجب ج: سنت د: سنت مؤکد(تأکیدي او تکراري)

145.جهاد په کوم کال فرض شویدی:
الف: دریم هجري ب: دوهم هجري ج: اول د هجري د: څلورم د هجري

146.جهاد په څو ډوله دی:
الف: دري ډوله ب: دوه ډوله ج: یو ډول د: څلور ډوله

147.(وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ) په دې مبارک آیت کې د (ما تُبْدُونَ) کلمه دا معنی ورکوي:
الف: په هغه څه چې پوهېږي ب: هغه څه چې ښکاره کوي
ج: هغه څه چې اظهار کوي د: هغه څه چې پټوي

148.( وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاء كُلَّهَا ) په دې مبارک آیت کې د (عَلَّمَ)کلمه په دې معنی ده:
الف: زده يې کړ ب: ورزده يې کړ ج:علم يې زده کړ د: علم زده کوي

149.( فَلْيَتَّقُوا اللَّهَ وَلْيَقُولُوا قَوْلاً سَدِيدًا ) په دې مبارک آیت کې د (سَدِيدًا )کلمه څه معنا ورکوي:
الف: حکمت والا ب: نرم ج:نصیحت والا د: سیده اومستقیم

150.واحد خبر په څو ډوله دی:
الف: دوه ډوله ب: دري ډوله ج: پنځه ډوله د: څلور ډوله

151.(انما الاعمال بالنیات ) د دې حدیث مطلب د لاندې مېرمنو څخه یوه ده:
الف: ام جمیل ب: ام قیس ج: ام عماره د: ام درداء

152.من صام رمضان ایماناً واحتساباً ) په دې حدیث مبارک کې (احتساباً ) دا معنی ورکوي:
الف: د الله (ج) د رضا لپاره ب: د ثواب د لاسته راوړلو لپاره
